UNAMA
د ملګرو ملتونو د مرستو د پلاوي دفتر د افغانستان لپاره
د استراتيژيکو اړيکو او ویاند دفتر، کابل، افغانستان
مطبوعاتی اعلامیه
http://unama.unmissions.org

**په افغان پوځی شخړه کی ښکیلی خواوی دی د ملکی کسانو خوندیتوب ته زیات پام وکړي**
**کلنی راپور په ۲۰۱۰ کال کی د ۲۷۷۷ ملکی کسانو مړینه ثبت کړی**

**د مارچ ۹ ، ۲۰۱۱، کابل** – په افغانستان کی د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی (یوناما) او د افغانستان د بشری حقونو خپلواک کمیسیون د ۲۰۱۰ کال په شخړو کی د ملکی تلفاتو کلنی راپور د وړاندی کولو پر وخت د افغانستان په شخړه کی د ښکیلو خواو باندی غږ وکړه چی په ۲۰۱۱ کال کی دی د ملکی کسانو ساتنی په هکله زیات ګامونه واخلی.

د راپور له مخی په ۲۰۱۰ کال کی په پوځی شخړه کی د ۲۷۷۷ ملکی کسانو مړینه رامنځ ته شوی چی د ۲۰۰۹ کال په پرتله ۱۵سلنه لوړوالی ښي. په تیرو څلورو کلونو کی ۸۸۳۲ ملکی کسان وژل شوی چی د هر کال په تیریدو د تلفاتو دا کچه لوړه شوی.

؛ د بشری حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عمومی منشی مرستیال ښاغلی ایون سایمونویچ وویل: په داسی یو کال کی چی وسلوالو شخړو زور اخیستلی، د دولت پلوه ځواکونو په فعالیتونو کی ډیر والی راغلی او د دولت ضد عناصرو د زیاتو ځایی پر ځای شوی چاودیدونکی توکو او ترور له امله په لویه کچه په ۲۰۱۰ کال کی د ډیرو ملکی خلکو ژوند اخیستلی .

د دولت ضد عناصرو ته د ۲۰۸۰ ملکی کسانو مړینه منسوب شوی ( د ټول ملکی تلفاتو ۷۵ سلنه ) چی د ۲۰۰۹ کال په پرتله ۲۸ سلنه لوړوالی راغلی او دولت پلوه ځواکونو ته د ۴۴۰ ملکی کسانو مړینه منسوب شوی (۱۶ سلنه ) چی د ۲۰۰۹ کال په پرتله ( ۲۶ سلنه ) ټیټ والی راغلی. د ملکی کسانو د مړینی ۹ سلنه هیڅ یو ښکیل لوری ته منسوب شوی نده .

د ځان مرګی بریدونو او ځایی پر ځای شوی چاودیدونکی توکو تر ټولو ډیر ملکی کسان د ۲۰۱۰ کال په شخړه کی وژلی چی د ۱۱۴۱ ملکی کسانو ژوند یی اخیستلی یا ۵۵ سلنه د ملکی خلکو مړینه د دولت مخالفو ته منسوب شوی ده.

د ټولو نه ویرونکی تمایل د دولت ضد عناصرو لخوا د ۴۶۲ ملکی کسانو ترور دی چی د ۲۰۰۹ په پرتله دی کی ۱۰۵ سلنه ډیر والی راغلی. نیمایی د ترور او وژنی د افغانستان په سویل کی رامنځ ته شوی چی په ۲۰۱۰ کال کی ۵۸۸ سلنه ډیروالی په هلمند ولایت کی او په قندهار ولایت کی ۲۴۸ سلنه ډیر راغلی.

ترور یا انفرادی وژنه افغان ټولنه ډیره اغیزمنوی او د بشری حقونو د سرغړونی او قربانیانو د شمیر سربیره نور ناوړه اغیزی له ځان سره لری. ؛د افغانستان د بشر حقونو خپلواک کمیسیون کمیشنر ښاغلی نادر نادری وویل: ترور د ملکی خلکو د اساسی حقونو لکه د ژوند ، د بیان آزادی، سیاسی ګډون، کار او زده کړی څخه د برخمن کیدو مخنیوی کوی. د دی حقونو د پښو لاندی کول کلک سیاسی، اقتصادی او ټولنیزی پایلی لری چی د حکومت داری او پرمختیا د ورو کیدلو لامل ګرځي.

د دولت پلوه ځواکونو د ډول ډول تیکتیکونو څخه یو یی هوایی بریدونه دي چی په ۲۰۰۱ کال کی تر ټولو زیات د ملکی وګړو د مړینی سبب شو، ۱۷۱ ملکی کسان په دی کی ووژل شول چی دولت پلوه ځواکونو ته د منسوب ملکی تلفاتو ۳۹ سلنه تشکیلوی.

بیا هم د دولت پلوه ځواکونو لخوا په ۲۰۱۰ کال کی د زیات هوایی بریدونو او هوایی ځواک کارولو باوجود د هوایی بریدونو په پایله کی د ملکی مرګ ژوبلی تناسب د ۲۰۰۹ په پرتله ۵۲ سلنه راټیټ شوی دی.

په ۲۰۱۱ کال کې دې د ملکي کسانو خوندیتوب لازیات شي نه دا چې بل کال بیا ملکي تلفات ډیرشي. دا په افغانستان کې د یوناما د بشري حقونو څانګې مشرې جورجیت ګنیون وویل: په وسلواله شخړه کې ښکیلې خواوې د دولت ضد عناصر ، د افغانستان دولت او نړیوال پوځي ځواکونو نه په کلکه غواړو چې په ۲۰۱۱ کال کې ټولې خواوې خپل حقوقي مسؤلیت ته پام سره دې د ملکي خلکو د ساتنې لپاره لا ډیر ګامونه واخلي.

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی او د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون په ۲۰۱۱ کال کې په شخړه کې ښکیلې خواو د پلې کولو لپاره لاندینی ۲۵ سپارښتنې وړاندې کړي.

**د دولت ضد عناصر (طالبان اونورد دولت ضد وسلوالی ډلی)**

- سمدلاسه د ملکي وګړو په نښه کولو څخه لاس واخلئ، په شمول د ملکي دولتي مامورینو او د هغو ملکي کارکوونکو چې د نړیوالو نظامي ځواکونو سره کارکوی چې هغوی د هر ډول اسلامي او نړیوالو قوانینو د اصولو په وړاندې د ضرر څخه خوندي دي. همدا راز خپلې هغه پریکړې دې باطلې وګرځوی چې د ملکي خلکو د بریدونو او د وژلو اجازه ورکوی.

- هغه قوانین اومقررات اولارښوونې پلې کړئ چې په ملکي خلکو د حملو مخنیوی کوی او هغه دولتي ضد عناصر مقصربولي چې د ملکي خلکومرګ او ژوبله کوی.
- د تناسب، توپیر او احتیاط اصولو په نظر کې نیولو سره د نړیوالو بشري قوانینو له مخې د ملکي تلفاتو مخه ونیسئ.
- د ټولو ملکي تلفاتو د پیښو چې د دولت ضد عناصر ښکیل وی پلټنه او تحقیقات دې وکړئ، علنی راپور ورکړئ اود ملکي تلفاتو په اړوند د معلوماتو ورکولو لپاره یومصؤن رابط غړی وټاکئ.
- د وژنې اوتهدید ټول قوانین سمدلاسه له اجرأتو وغورځوئ چې د افغانستان د اساسي قانون اوملي قوانینو او همدا راز د نړیوالو بشري حقونو او د بشر دوستانه د قانون له مخې جواز نلري چې د ملکي خلکو له وژنې، اعدام، اختطاف، تهدید، د بدن د غړو پریکول او سرغوڅونې څخه عبارت دي.
- دا خبره یقیني کړئ چې ولسي خلک په پوره ډول سره د آزاد تګ راتګ حق، د اساسي خدماتو لکه روغتیا او تعلیم، څخه برخمن دي.
- هغه تلاشي ګانې سمدلاسه پای ته ورسوی چې د ولسي خلکو د تګ راتګ د آزادۍ مخه نیسي.
- د جګړې په وخت کې د خپلو جګړه مارو د ساتلو په موخه د سپر په ډول د ولسي وګړو کارولو څخه سمدلاسه لاس واخلئ.
- په ښوونځیو، روغتیایي تسهیلاتو او جوماتونو د بریدونو څخه لاس واخلئ چې د نړیوال بشري قانون په وړاندې خوندي ځایونه دي.

**د افغانستان د دولت لپاره**

- د یوې مسلکي دولتي اداري جوړښت د داسې ځواک په درلودلو سره چې عمده ولسي تلفاتو پیښنو ته ځواب ووایی او دا توان ولري چې ټولو دخیلو ډلو سره د معلوماتو په شریکولو، پلټنو او کشفولو کې کاروکړي.

- یوهمغږه، شفاف او په خپل وخت سره د معیاري تاوان ورکونې کړنلارې عملي کول او د جنګ ځپلو ملکي وګړو د پاره د کړنلارې او د جبران خسارې او د مسؤلیت په شمول په هکله د خلکو د پوهاوی د کچې لوړول.

- څرنګه چې دامنیتي مسؤلیتونو مشرې د نړیوالو ځواکونو څخه افغان ځواکونوته انتقالیږي، نو په افغان ملي اردو کې دې یو پلاوی د رابط غړي په ډول جوړشي ترڅو د ملکي تلفاتو او د اسناد جوړونې، پلټنو، حسابدهي او د جبران خسارې دندې اجراء کړي.

- د نړیوالو پوځي ځواکونو سره یوځای دی داسی قانونی لایحه جوړه اوعملی کړی چی د ممکنه هدف ګرځیدونکو ملکی وګړو له وژنو څخه مخنیوی وکړي.

- د علمای کرام او بارسوخه مذهبی مشرانو څخه وغواړی چی په جنګ کی ښکیلو اړخونو باندی غږ وکړی ترڅو د ولسی خلکو وژلو او ژوبلولو ته د پای ټکی کیږدی او په ولسی خلکو د جګړی اغیزي راټیټي کړی.

- په دی ډاډمن کیدل چی د افغانستان ملی امنیتی ځواکونه د افغان ځایی پولیسو په شمول خپلو ټولو وظایفوته په پوره ډول درناوی کوی چی د نړیوال بشری قانون له مخی د ولسی خلکو ژوند وساتي اوټول هغه ممکنه احتیاطی تدابیراستعمال کړی د کومو په واسطه چی دولسی خلکو مرګ ژوبله او د هغو شتمنیو ته د زیان رسونی کچه راټیټیږی.

- سملاسی د شفافی قانونی لایحی څخه کار اخیستل ترڅو افغان ملی امنیتی ځواکونه د افغان ځایی پولیسو په شمول حسابدهی ته وده ورکړی او څوک چی د ملکی خلکو د غیرقانونی مرګ ژوبلی سبب ګرځی او یا هم د ملکی افغانانو د حقونو څخه سرغړونه کوي د هغوی پر وړاندی انضباطی او نور قانونی اجرات ترسره کیږی.

- د ټولو توقیفی میکانیزمونو، پلټنو، اومحاکمو یقینی کول چی د افغانستان او د نړیوالو عادلانه محاکمو معیارونو سره برابر دی او هیڅوک د ځانګړو پلټنو څارنوالی پرته نه خوشی کیږی او د درنو جرمونو مرتکبین مسؤل او ګرم ګڼل کیږی.

**نړیوالو پوځي ځواکونو ته**

- په ټولو هغو پیښو کی چی ملکی تلفات ولری بشپړی، بی طرفه او روښانه پلټنی وکړئ، پخپلو پرمختګونو او د پلټنو په نتایجو باندی علنی او چټک راپور ورکړئ د هغو وګړو په وړاندی چی د بشر حقونو د نړیوال قانون او د بشر دوستانه نړیوال قانون په وړاندی د جدی سرغړونو مسؤل وی، ګرم وګڼل شی او د سر غړونکو پر وړاندی دی تادیبی او جزایی اجرآت تر سره شی.

- دا یقینی کړئ چی ستاسی سیمه ایز قوماندانان د خپل ځواک کارول او د شپی له خوا بریدونو پر وخت په پوره ډول سره د عملیاتو معیاری اصول او تکتیکی لارښوونی په عمل کی پلی کوی او د یو معیاری، روښانه څارنی او نظارت له مخی د پلی کولو ارزیابی کیږی.

- د شپی لخوا د بریدونو پرځای دوامداره متبادلی لاری چاری ولټوئ او ډاډ ورکړئ په دی چی د شپی تالاشی، بندیزونه او عملیات د افغان ملی امنیتی ځواکونو سره په ګډه او یا د هغوی په مشرئ تر سره شي چی د هغه له لاری په بشپړ ډول د عنعنوی، کلتوری او مذهبی ارزښتونو قدر وکړی چی د قوتونو د نړیوالو قانونی وظایفو له تناسب، توپیر او احتیاط سره په مطابقت کی وی. دا خبره یقینی کړئ چی نړیوال او افغان امنیتی ځواکونه هغه بشپړی شوی معیاری ارتباطی فورمی د متضرر او یا د بندیانو د خپلوانو سره پریږدی کومی چی دتکتیکی هدایاتو او لارښونو لپاره اړینی دی.

- دځانګړو قوتونو عملیاتو په اړه شفافیت ته وده ورکړئ او په هغو مواردو کی چی د دوی د کړنو په پایله کی ولسی خلکوته زیان وراړول شوی وی خپل مسؤلیت علنی ومنی.

- د آیساف اوټولو امریکایی او افغان ځواکونو په شمول د خاصو عملیاتو ځواکونو لپاره دي یو لارښود نشر شی چی په کی د ناټو ناپییلو لارښوونو باندی ټینګارشوی وی چی د تاوان ورکونی، د عملی تفصیلی پروسیجرونو وړاندیز

د تلفاتو د ثبت د ادعاؤ د ترلاسه کولو، د پلټنو د ترسره کولو او د جبران خساری په فورموکی د بدلون وړاندیز، بخښنی، په غم کی شریکیدنه او د درنښت نوری نښو او اشارو باندی تأکید شوی وی.

- د معیاری عملیاتو کړنلارعملی کړئ چی معیاری اصول او مقررات پخپلو مطالبو کی رانغاړی، د هغو ثبوتونو د چال چلند لپاره چی د نیونی په وخت کی راغونډ شوی وی، اوهمدا راز د هغی کړنلاری عملی کول چی شواهد افغانی چارواکوته ورسپاری.
- په پراخه ډول ټول د آیساف/امریکایی قوتونو هغه تصامیم له نظره تیرکړئ چی د عملیاتو په وخت د ولسی خلکو شتمنیو ته زیان رسوی او دا ډاډ تر لاسه کړئ چی دغه تصامیم د نړیوال بشری قانون سره سمون خوری، اوهغه متبادلی لاری چاری ولټوئ کومی چی د ولسی وګړو د شتمنیو اومعیشت د تباهی کچه راټیټوي.
- د یو داسی مناسب میکانیزم د جوړښت ملاتړ وکړئ چی د افغان ځایی پولیسو د جوړښت، استخدام او د هغوی د مرکزونو د فعالیتونو څارنه کوی ترڅو د پولیسو د هغو بد چلند اوغیرقانونی اعمالو مخنیوی وکړی کوم چی د ځایی پولیسو د قوماندی او طرزالعمل څخه بهر دی، او دا یقینی کړئ چی د افغان ځایی پولیسو واحدونه دافغانستان اونړیوالو قوانینو په شمول د بشر د حقونو او د بشری قانون سره موافق چلند وکړی.

**د ایډیټورانو لپاره یادونه:**

د لاډیرو معلوماتو لپاره د لاندنیو نښو سره اړیکه ونیسئ:

د ستراتیژیکو اړیکو او د ویاندویانو دفتر

د ملګرو ملتونو د مرستو پلاوی د افغانستان لپاره (یوناما)، کابل، افغانستان

د رسنیو لپاره ټولي اړیکي په لاندی نښه موجودي دي http://unama.unmissions.org

زموږ د خبرونو د تر لاسه کولو لپاره زموږ په ویب پاڼه کی ګډون وکړئ

**د یوناما ویاندویان:**

نیلاب مبارز: ۰۷۹۷۶۶۲۵۰۳
نظیف الله سالارزی: ۰۷۹۷۶۶۲۵۰۴
دن مکنارتن: ۰۷۰۰۲۵۰۳۵۸